په اروپا کی دمیشته افغانانو د ټولنو فدراسیون

فدراسیون سازمانهای پناهندگان افغان در اروپا

Federation of Afghan Refugee Organizations in Europe

# دښځو دنړیوال ورځ په ویاړ دفارومبارکی پیغام

۸ مارچ ۲۰۱۰

دفارو مدیره هیأت دښځو دنړیوال ورځ په ویاړ خپل دزړه دکومې نیکی هیلې اوتودی مبارکي دافغانستان ټولو ښځو ته چې دنړی په هرګوټ کې اوسیږي وړاندې کوی. .
دتاریخ په شهادت ویلي شو چه که زمونږد هیواد ښځو ته مساعده زمینه ورکړشی، افغان ښځې ددی توان لری چه د افغانستان په رغونه کې او دجنګ غیمزو ته د پاې ټکی په ایښودلو او هیواد کې دسولې په راوستولو کې خپل مهم رول ولبوی . نازو انا، زرغونه انا، ملالی میوند، رابعه بلخی، عایشه درانی او ملالی جویا د افغانستان د ښځو دخارق العاده استعداد او باتورتوب واضح مثالونه دي . دافغانستان ښځې دخپل کور اووطن په دفاع کی په فعاله ټوګه برخه اخیستی د ي. په خواشینی سره باید ووایو چه  آخر لسو کلونو کی دلویدیزنړی د تبلیغاتو سره سره، د افغان ښځوونده په سیاست، تقنین، سوله،  ټولنیزی چار ي او اقتصاد کی نمایشی بڼه لری . داوسنۍ افغانستان په دولتی ارګانونو کی کم کسان پیداکیږي چه دز ړ ه له کومی دښځوپه برابرحقوق عقیده ولری .
خو دافغانستان ښځې چه د راتلونکي نسلونو په روزلو کې زیار باسی  اودخپل حقونو په لاس ته راوستلو باندی  ټینګارکوی، کولی شی پخپل زور، ددی نه پرته چه  دلویدیزهیوادونو دمرستی په تمه وی، په تدریجی ډول خپل هیواد دپرمختګ پړاو ته ورسوی اوخپل مساوی حقونه تر لاسه کړي .

FAROE, P.O.Box 707, 2300 AS Laiden, The Netherlands www.afghandiaspora.org
Faroe_af@hotmail.com www.afghandiaspora.org



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.